**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب لوی ریاست**

**د گمارنو کمېټه**

**د گمارنو نوی لارښود** نېټه ۱۴۴۴/۱۲/

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**سریزه:** د عالي قدر امیرالمؤمنین حفظه الله د (۱۴۴۴/۸/۲۸) نېټې (۳۲مه) گڼه فرمان پر بنسټ، د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب لوی ریاست اداره د امارتي ادارو او اړونده خصوصي سکټورونو د اجراأتو او د فعالیتونو د څرنگوالي ؛ د مشرتابه د فرمانونو او حکمونو د تعقیب؛ د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء محترم مقام د حکمونو او د محترمې کابینې د فیصلو د هر اړخیز نظارت په موخه تأسیس شوې ده چې په همدې موخه د (٦٣٦٧) بستونو تشکیلاتي چتر منظور شوی دی.

د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب لوی ریاست محترم مقام د ۱۴۴۴/۱۲/۱٦ هـ ق نېټې د مجلس په ترځ کې د دې ادارې د بشري سرچنو د پراختیا عمومي رئیس مفتي شیرولي حقاني په مشرۍ یوه کمېټه مؤظف کړه تر څو د دې ادارې په مرکزي او ولایتي واحدونو کې د مسلکي، اداري او خدماتي کارمندانو، د ملکي او نظامي په گډون، د گمارنو څرنگوالی پلی او د گمارنو پروسه په عملي توگه له عالم؛ مجاهد؛ متقي او مسلکي کسانو څخه پیل کړي.

**د توظیف شوې کمېټې پرېکړه:**

1- په لومړي قدم کې، اداري او خدماتي بستونو کې دې د ادارې د بنسټیز جوړښت په توگه مسلکي او ژمن کسان وگومارل شي.

2- د ریاستونو او نظارتي کمېټو په چوکاټ کې د مسلکي کارمندانو د استخدام پروسه دې له علماوو، مجاهدینو ،مسلکي او باتقوا کسانو څخه پیل شي.

3- په نظامي برخه کې له شپږم تر دریم بستونو پورې گومارنې دې، د اداري او مسلکي څانگو په گډون، د تحصیلاتو د سویې پر بنسټ، چې د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو تاییدي ولري، په لاندې ترتیب سره ترسره شي:

أ- شپږم بستونه – لږ تر لږه د دولسم ټولگي سند یا یې معادل سند ولري، لوړې تحصیلي سویې ته دې لومړیتوب ورکړل شي.

ب- پنځم بستونه – لږ تر لږه د څوارلسم ټولگي سند یا یې معادل سند ولري، لوړې تحصیلي سویې ته دې لومړیتوب ورکړل شي.

ج- څلورم بستونه – لږ تر لږه د لېسانس سند یا یې معادل سند ولري، لوړې تحصیلي سویې ته دې لومړیتوب ورکړل شي.

د- دریم بستونه – لږ تر لږه د لېسانس سند یا یې معادل سند ولري، لوړې تحصیلي سویې ته دې لومړیتوب ورکړل شي.

4- د امکان په صورت کې، د اداري کارمندانو د تشو بستونو د استخدام پروسه دې د آزادې سیالۍ له لارې ترسره شي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

5- د ملکي او نظامي فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب د معاونیتونو په برخه کې د پر وخت او مسلکي نظارت په موخه، اړین ګڼل کېږي چې متخصص کسان دې هم د اړونده څانګو د اړتیا پر بنسټ د مرکزي او ولایتي نظارتي کمېټو په ترکیب کې د دې لارښود دریېم بند په رعایت سره د استخدام په موخه پیشنهاد شي.

6- ولایتي خپلواک ریاستونه او آمریتونه، ملکي او نظامي دواړه، دې د دې لارښود د لومړي، دویم، دریېم، څلورم او پنځم بندونو له مخې د اړونده خپلواکو ولایتي رئیسانو او آمرینو په مشرۍ د ۳ کسیزو کمېټو د جوړولو له لارې اړین اجراأت ترسره او خپل مشخص پیشنهاد دې د اړونده مسلکي او داري کارمندانو په بست کې د ګمارنې منظورۍ ترلاسه کولو په موخه ژر تر ژره د مقام ته وړاندې کړي.

7- په شرایطو پوره کسان، چې د ګمارنې کمېټې له خوا د استخدام په موخه تاییدېږي، د خپل تقرر د منظورۍ پیشنهاد نه مخکې، مکلف دي چې د بشري سرچینو د عمومي ریاست له لارې د مقررۍ اړونده ابتدایي سندونه طی مراحل کړي ا. د مقررۍ ابتدایي سندونه د تابعیت تذکرې، د استخدام دوراني فورمې، له تعلیمي او تحصیلي مراجعو څخه د سندونو د تاییدۍ مکتوب، د ضمانت خط فورمې، د کار جواز، د مالیه ورکولو تشخیصیه فورمې، د استخباراتو ریاست د تاییدۍ مکتوب، او په هغه صورت کې چې یاد کس رسمي کارمند وي، د نوموړي د موافقې مکتوب او د سوانحو لنډیز څخه عبارت دي. که چېرې د نظر لاندې کاندید مجاهد وي او تحصیلي سندونه یې ارزیابي شوي نه وي، خپل د جهاد دورې د تصدیق سندونه دې طی مراحل کړي او پر بنسټ دې یې د هغه د استخدام په برخه کې ګامونه اوچت کړل شي او وروسته دې خپل تحصیلي سندونه طی مراحل کړي.

8- ولایتي ریاستونه او آمریتونه مکلف دي چې اړونده شپږم، اوم، او اتم بستونه د ولایت له لارې طی مراحل کړي او خپل پاتې بستونه په لارښود کې د ورکړل شوې نمونې (فارمیټ) له مخې په جدول کې ترتیب او له تاییدۍ وروسته یې رسماً د بشري سرچینو لوی ریاست ته واستوي.

9- د ګمارنو کمېټې له خوا له غور او بررسۍ وروسته، ولایتي جدولونه او وړاندیزونه دې، په هغه صورت کې چې د دې لارښود د مادو مطابق تنظیم شوي وي، تایید شي، او د بشري سرچینو د پراختیا لوی ریاست دې په مناسب ډول په دې اړه اړین تصمیم ونیسي.

10- د ملاحظاتو د شتون او د ګمارنو د کمېټې له خوا د ګمارنو د لارښوود نه مراعات کولو په صورت کې دې د دلیلونو په ذکر کولو سره د بیا اصلاح په موخه رسماً مسترد کړل شی. اړونده ریاستونه او آمریتونه مکلف دي چې په دوه کاري ورځو کې دننه دې دوباره اصلاح او بېرته دې واستوي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

| د ۱۴۰۲ کال د تشکیل له مخې د (                ) ریاست د کارمندانو د ګمارنو د پیشنهاد جدول | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | شهرت | | تحصیلي سویه | موجوده دنده (د ۱۴۰۱ کال تشکیل) | | | د تقرر ډول | پیشنهادي دنده (د ۱۴۰۲ کال تشکیل) | | | | کتنې |
| | نوم | د پلار نوم | | د دندې نوم | بست | قدم/رتبه | | د دندې نوم | بست | قدم | د بست کوډ | |
| ۱ | | | | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | | | | | | |
| ۵ | | | | | | | | | | | | |
| ٦ | | | | | | | | | | | | |
| ۷ | | | | | | | | | | | | |
| ۸ | | | | | | | | | | | | |
| ۹ | | | | | | | | | | | | |
| ۱۰ | | | | | | | | | | | | |
| ۱۱ | | | | | | | | | | | | |

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت ځارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.